# Summaries in Pashto

## دجنګ ځپلو میندو په منځ کیہنمزیغا برخه اخستنه ددوی په بیا مدغم کولو کی په لایبیریا، سریلیون او شما لی یوګندا کی:

لیکنه: (*Angela Veale*) انجیلا ولی (*Miranda Worthen*)میرندا ورتن ( *Michael Wessells*) میچل ویسل (*Susan McKay*) سوسن مکی

کله چی ځوانی میندی، هغه چی پخوایی د مسله ډلو سره تړاولاره، بیرته خپلو ټولنو ته راګرځی، دوی په وصفی ډولسره له ټولنی ځخه،ګوښه، تورنی او رټلی شو ی وی.چی دا ددوی او همدارنګه ددوی اوددوی دټولنی لپاره په بیا ادغام یایوځای کولو کی ستونځی را پیداکوی.

ددوی ماشومان له ګڼو ستونځوسره مخ وی لکه له نظره غورځوول، رټل او همدارنګه ناوړه ګټه اخستنه. په دی مطلب کی، لیکوال یو نوښت چی دننه په ټولنه کی ترسره شوی، یوه څیړنه چی (*participatory action research (PAR)*) ورته وایی بیانوی. دا نوښت پخوانی جنګی ډلو سره تړلی ځوانی میندی په خپلو ټولنوکی، په فعاله او اغیزمنه ډول شاملو.

---

داپروژه په ۲۰ ځایونوکی په دری ملکونوکی: لایبیریا (*Liberia*)، شمالی یوګندا ( *northern Uganda*)، او سریلیون (*Sierra Leone.*) او په یو علمی او غیر دولتی ګډون ترسره یا عملی شوه.

۶۵۸ ځوانو میندوچی د پخوانی جنګی ډلو سره تړلی وی او همدارنګه نورو میندو چی حساسی ښکاریدلی.

دروحی ټولنیزی مرستی په شتون کی دی ځوانو میندو خپلی ځانونه را ټول کړل، خپلی ستونځیی په ګوته کړی او ټولنیزکارونوته یی وده او انکشاف ورکړل چی خپلی ستونزی پری حل کړی او خپل حالات بدل کړی. دځینو پروژو پایلی داسی وی:

میندو او ددوی ماشومانو د ډیری فامیلی مرستی سره او همدارنګه دټولنی دغړو په منلو سره،ددوی بیایوځای کیدنه په ټولنه کی: دمثبتو لارو چارو مهارتونه او لګه برخه اخستنه په جنسی کارونو دپیسو لپاره.

## دلمړنیو مراقبتونو یا څارنو روغتیایی کارکوونکو روانی روغتیا روزنه: بیلګی د سریلانکا، پاکستان او اردن څخه

**لیکنه:** (Boris Budosan) ډاکتر بوریس بودوسان

شواهد په ګوته کوی چی ترټولو ښه لاره چی دروانی روغتیا خدمات خلکوته ورسیږی دادی چی د لمړنیو څارنو روغتیایی کارکوونکو سره مرسته وشی اودهغوی دکارونو نظارت وشی.

دری بیلګی دداسی پروګرامونو چی په بیلو بیلو هیوادونو کی عملی شوی په دی مقاله کی واضح کیږی.موخه یی داوه چی تجارب او زدکړی دبیلابیلو ملکونو سره شریکی شی.

مربوطه مقدماتی او ثانوی ارقام پدی بیلګو کی پکاروړل شوی. دروانی روغتیا روزنیزو کو رسونو په عمومی ډول دلمړنیو مراقبتونو کارکوونکو پوهه لوړه کړله. دځو فکتورونو په یو ځای کولو تل پاتی تغیرات ددوی په روانی روغتیا پاملرنه کی لاسته راغلل:

الف:په مسلکی ډول ترتیب شوی او پلی شوی کورسونه.

ب: تشویق او هڅونه دکلیدی کسانو دروانی روغتیا خدماتوته انکشاف ورکړی.

ث: سیاسی اراده ددولت چی په تعقیب یی دروانی روغتیا پالیسی جوړه چی دروانی روغتیا ادغام په لمړنیو مراقبتونوکی تقویه کړی.

د: ښه روزنیز کورسونه.

ذ: دپانګی اومسلکی کسانو رادننه کول.

ددی مقالی موندنی دنړی دروغتیایی سازمان دانظریه چی دلمړنیو مراقبتونو دکارکوونکو روزنه یوعمده او اړین فکتور د روانی روغتیا په کامیابه مدغم کولو کی په لمړنیو مراقبتونوکی دی

**کلیدی الفاظ:**روانی روغتیا، لمړنی مراقبتونه، دپرګرام انکشاف، دروانی روغتیا خدمات، دکارکوونکو انکشاف

---

## دپیغلو او ځوانو ښځو بدلیدنه له جنګی حالت څخه ملکی ژوند ته: دیو ی بیلګی څیړنه په سریلانکا کی.



Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.

**ليکنه:**سونی انباراج کريشنان ( Sonny Inbaraj Krishnan)

دامقاله دځوانو زنانه تاميلی پړانګانو جنګياليوژوند په باتيکالاو نامه ځای کی وروسته دداخلی جنګونو په سريلانکاکی تشريح کوی. د امقال بيانوی چی خپلولی او اتحاد دښځو په شبکوکی ددوی دبقا سره مرسته کړيده.

په باتيکالاوکی، د زنانه تر مشری لاندی کورنيو عمده مسوليت د هغه زنانه جنګياليو لپاره وړلو يا په غاړه اخستی وه چی هغوی روحی ترضيض ليدلی، زخمش شوی وی او جنګ څخه راواپس شوی وی. داکار ديو ی خيريه اداری او ځانګړی طبی او روحی ټولنيزی مرستی نه پرته ترسره کيدلو. د معيوبو پخوانيو زنانه جنګياليو لپاره ګرانه وه چی خپله راتلونکی په ټولنه کی جوړه کړی. سره لدی دسريلانکا ملی کاری پلان دپخوانيو جنګياليو معيوبين هم خپل چتر لاندی راولی خو هغو ندرتاً لدی څخه ګټه اخستلی شوه. ليکوال په آخر کی داسی خپل نظر راخلاصه کوی چی پيسه په داسی پروګرامونو لګول کيږی چی هغه اعتماد نه جوړوی په تاميلی ټولنه او دسريلانکا په دولت کی خوپخوانی جنګيالی خپلی ټولنی سره دوباره پخلاکوی. دااړينه نده څکه چی ټولنی داخلک منی او ددوی سره مرسته کوی، په ځانګړی ډول په هغه کورنيوکی چی دښځو لخوا يی مشری کيږی. هغه کورنی سره بايد مالی مرسته وشی چی دزنانه جنګيا ليو سره مرسته کوی.
**کليدی الفاظ:** ځوانی ښځی او پيغلی جنګيالی. ماشوم جنګيالی، غير مسلح کول، غير متحرک او دوباره په ټولنه کی شاملول

---

**دروانی روغتيا کارکوونکو، دروحی ټولينزو کارکوونکو اودمشاورينو لپاره: داسی يوه طريقه چی د ګډونوالودارټياپراساس جوړه شوی.**

**ليکنه:**ګوس وندروير او فيليکان تايلاراج *Guus van der Veer & Felician Thayalaraj Francis*

دامقاله دهغه کارکوونکو روزنه تشريح کوی چی دهغوی اساسی دنده (مرسته دخبرو له لاری ده) داخلک بايد دهغه چاسره کاروکړی څوک چی طبعی او غير طبعی افاتو ځپلی دی او څو ک چی ددی کارلپاره لږ تعليم لری چی ددوی لپاره ضروری دی. دامقاله دکارکوونکو ځانګړتياوی، ددوی دزکړی اړتياوی، کوم پيغام چی بايد ورسوی، ځانګړتياوی او ممکنه منځپانګه دداسی کورسونو چی د ګډونوالودارټيا پراساس جوړشوی وی، راپه ګوته کوی.
**کليدی الفاظ:** دټولنی کارکونکی، مشاورين، مرسته دخبرو له لاری، روانی روغتيا کارکوونکی، روحی ټولنيز کارکوونکی، روزنه، دګډونوالو دارټيا پربنسټ جوړشوی کورسونه.

---

**دساحی راپور: د هم رتبه نظارت ديو ی داسی طريقی لپاره چی دعملی تجربو څخه زدکړه وکړی:**

**ليکنه:** ګوس وندروير او فيليکان تايلاراج *Felician Thayalaraj Francis & Guus van der Veer*

دا ساحوی راپور يوه وړوکی بو دجی والا پروژه تشريح کوی چی هدف يی د ګډونوالو ظرفيتونو لوړول وه. پدی پروژه کی نرسان، دټولنی رضاکاران ، مشاورين او روحی ټولنيز کارکوونکی چی دروانی روغتيا ځانګی سره په ځلورو روغتونوکی دسريلانکا په ختيځ کی ترلی وه. ددی لپاره چی ددوی ظرفيتونه لوړ کړو، پروژه کی مو يو سلسله کورسونه شامل کړل ا و همدارنګه منظمی لاربښوونی په مياشتنی نظارتی کتنو کی د همکارانو لخوا ورکول کيده. دا نظارت دهم رتبه همکارانو لخوا دمنظمو اصولو لمخی ترسره کيده او يوښه او دوامداره زدکړی فرصت ورکوی، دواړه هم نظری ا وهم عملی.
**کليدی الفاظ:** رضاکاران، مشاوره، نرسان، دهمرتبه نظارت،روحی ټولنيز کارکوونکی.

---

**د IASC لاربښود او دنړيوالی افاتو دارواح پوهنی پروګرام د Denver په پوهنتون کی**

**ليکنه:** *Tom Barrett, Judith Fox, Janet Shriberg, Kate Aden, Whitney Eich & Abigail Wolfe*



Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.

په نړی کی،دانسانی او غیرانسانی افاتو تاوان مخ په زیاتیدونکی پیژندنه یا منل دهغوی د روحی اور وحی تولینیزاهمیت د هغه تاوان لپاره چی دا آفات یی منځته راوړی. داپیښیی دنړی په بیلابیلو خلکوکی ډیری شوی چی په خپله د روزل شویومسلکیانواړتیا دمربوطه مهارتونو سره ډیره شوی چی د اسی ستونځوته ځواب ووایی. دنړیوالی افاتو دارواح پوهنی دماستری پروګرام ددی لپاره جوړشو چی دمخ په زیاتیدونکی اړتیا په عاجلو حالاتوک یاد

عاجلوحالاتوپه احتماماتوکی دامریکی په متحده ایالاتوکی اود نړی په نورو ځایونو کی پوره کړی.**د** IASC **لارښود دروانی روغتیا او روحی تولنیزی مرستی دعاجلو حالاتو لپاره**، په پراخه ډول پدی پروګرام کی استعمالیږی. دالارښود عملی طریقی برابروی چی وکولی شی روحی تولنیزو ستونځوغم وخوری په آفاتوکی ، او برابروی کاری محال د پلان او ستراتیژی جوړونی لپاره. دامقاله **د** IASC **لارښود استعمال په علمی ځایونوکی** امتحانوی. اودا چی **د** IASC **لارښود د** دنړیوالی افاتو دارواح پوهنی دماستری پروګرام (*MAIDP*) زده کوونکولخوا په پانامه کی څنګه کاریده تشریح کوی. داکره کتنه ددی لپاره وه چی د ښوونکو، زده کوونکو او روغتیایی کارکوونکو سره مرسته وکړی چی په افاتی کاروکړی.

**کلیدی الفاظ:** روانی روغتیا، دنړیوالو آفاتو ارواح پوهنه، **IASC** لارښود، روانی تولنیزه روغاتیا

---

## دحساب(۱،۲) څخه تر روحی تولنیزه کاره پوری: شخصی غبرګونونه دیوی لسیزی روحی تولنیزی کار په اړه دماشومانو لپاره په کاسووکی.

لیکنه:راموش لیکاژ (*Ramush Lekaj*)

ددی راپورت مولف، اصلاً دریاضی پوهاند، بیانوی چی تیری او زورزیاتی څنګه دهغه دکار لاره بدله کړه او هغه یی دیوی غیردولتی اداری موسس او ریس شو چی ماشومانو لپاره دتعلیم او روحی تولنیزی مرستی په برخه کی کارکوی.وروسته د شخړی، ډیرروحی تولنیز کارونه ترتیب اوتنظیم شول.خو بدبختانه، اکثره محلی تجربی له نظره وغورځول شوی. وروسته دیوی لسیزی تجربی، لیکوال داستادانو په اړین رول چی تاکید کوی ددی لپاره چی ماشومانوته روحی تولنیز مرسته تقویه کوی اومحلی ظرفیتونو په تقویه کولو تاکید کوی ددی په عوض ددی چی نړیوالی موسسی دخارجیانو په لاس پروژی پلی کړی.

**کلیدی الفاظ:** ښوونکی، ماشومان، ظرفیت جوړونه، پخلاینه، کوسوو.



Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.